


# افغان کډوالو لپاره ځانګړې تحقیقاتي پوښتنې



## ***تاسې ښايي د انساني قاچاق له يوه قرباني سره په مرکه وکړئ که هغوی له دغو پوښتنو څخه يوه يا زياتې يې په هو سره ځواب کړي:***



آيا تاسې سره بل څوک شته دی؟ که هو، آيا تاسې په خپله خوښه له هغوی سره پاتې کيدل غوره کړي؟ آيا تاسې له هغوی څخه جلا کيدو د ډار يا له هغوی سره په پاتې کيدو د فشار احساس کوئ؟

آيا تاسې د کوم بهرني تړون له مخې د بل چا تر کنترول لاندې ياست؟

آيا ستاسې د هوئيت پيژندنې اسناد، پاسپورټ، ويزه، يا د هوئيت پيژندنې نور اسناد د بل چا په واک کې دي؟

آيا ستاسې د پيسو يا شتمنيو کنترول د بل چا په لاس کې دی؟

آيا ستاسې پر غاړه يو دروند پور دی چې تاسې يې د پرېکولو توان نه لرئ؟

آيا تاسې يا ستاسې کورنۍ تهديد، ژوبل، يا باج اخيستنې لپاره ګواښل شوې ده؟

آيا تاسې د يوه پور د پرېکولو لپاره، چې په هره بڼه وي (لکه ستاسې خپل يا د بل چا – د سفر د لګښتونو لپاره، خوراکي توکو، لباسونو، سرپناه، خونديتوب يا د بل کوم ارزښتناکه شي لپاره)، د يوه چا لپاره د کار کولو ژمنه کړې ده؟

آيا تاسې د خپلې غوښتې خلاف واده ته اړ ايستل شوي وئ؟ آيا واده تاسې لپاره ستاسې د خوښې خلاف برابر شوی و؟

آيا تاسې متحده ايالتونو ته د سفر کولو، يا خوراکي توکو، لباسونو، سرپناه، خونديتوب، درملو يا بل کوم قيمتي څيز په بدل کې د کورنۍ له خوا ترتيب شوی واده (arranged marriage) کړی و يا همدارنګه يوه واده کوئ؟





آیا تاسې سره د یو شي ژمنه کړل شوې او اوس تاسې ګورئ چې تاسې د یو بل شي منلو ته اړ ایستل شوي یاست؟

آیا ستاسې عمر له 18 کلونو څخه کم دی او د خپلو والدینو یا د کورنۍ کوم بل غړي پرته سفر کوئ؟ (دا په متحده ایالتونو کې یو کوچنی هلک/نجلۍ ده چې یوازې دی/ده.)

کلونو څخه کم دی او د یوه پاخه عمر 18آیا ستاسې عمر له شخص له خوا درسره ناوړه چلند کیږي یا د جنسي غریضې یا تفریح لپاره درڅخه ګټه اخیستل کیږي؟ (که هلک وي، دا بچه بازي یا د جنسي اغراضو لپاره قاچاق کیدای شي؛ که یوه نجلۍ وي، دا د جنسي اغراضو لپاره قاچاق کیدای شي. په هر صورت، دا په متحده ایالتونو کې له ماشومانو سره ناوړه جنسي چلند ګڼل کیږي.)





